**د واکسینو معلوماتي بیانیه**

Many vaccine information statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسینو په اړه د معلوماتو ډیری بیانیې په پښتو او نورو ژبو کې د لاسرسي وړ دي. دا پاڼه وګورئ www.immunize.org/vis

# د هیپاټایټس A واکسین:
## هغه څه چې تاسو یې په اړه باید پوه شئ

## 1. ولې باید واکسین ترسره کړو؟

**د هیپاټایټس A** واکسین له **هیپاټایټس A** څخه مخنیوی کوي.

**هیپاټایټس A** د ځیګر یوه جدي ناروغي ده. یاده ناروغي زیاتره په دې ناروغۍ باندې د اخته کس سره له نږدې څخه د شخصي تماس له لارې خپرېږي یا یو شخص په بې خبرۍ سره له هغو توکو، خوړو یا څښاک توکو څخه د خوړو لپاره ګټه واخلي چې د ناروغ کس په لږ مقدار غایطه موادو (غټ بول) باندې ککړ شوي وي.

په هیپاټایټس A باندې ډېری بالغ کسان اړونده نښې نښانې لري، لکه ستړتیا، د اشتها کموالی، د خېټې درد، کانګې، او ژیړی (د پوستکي یا د سترګو د رنګ ژیړبدل، تورې میتیازې، د کولمو جمع شوي حرکتونه). ډېری هغه ماشومان چې عمرونه یې له 6 کلونو ټیټ دي یادې نښې نښانې نه لري.

په هیپاټایټس A باندې اخته کس کولی شي دغه ناروغي نورو خلکو ته انتقال کړي حتی که هغوی د ناروغۍ نښې نښانې هم و نه لري.

ډېری هغه خلک چې په هیپاټایټس A باندې اخته کیږي د څو اونیو لپاره د ناروغۍ احساس کوي، خو هغوی زیاتره پرته له دې چې ځیګر ته یې ستونزه پیدا شي په بشپړ ډول ښه کیږي. په ډېرو لږو مواردو کې هیپاټایټس A د ځیګر د له کاره لوېدو او مړینې سبب کېدای شي؛ چې دا کار زیاتره په هغو کسانو کې ډېر عام دی چې عمورنه یې تر 50 کلونو لوړ دي او د ځیګر نورې ناروغۍ لري.

د هیپاټایټس A واکسینو دغه ناروغي په متحده ایالتونو کې غیرمعمولي ګرځولې ده. خو، د هیپاټایټس A پېښې په واکسین شوو خلکو کې لا هم رامنځته کیږي.

## 2. د هیپاټایټس A واکسین

**ماشومان** د هیپاټایټس A واکسینو 2 دورو ته اړتیا لري:

لومړۍ دوره: له 12 څخه تر 23 میاشتو په عمر کې
دویمه دوره: لږ تر لږه 6 میاشتې له لومړۍ دورې څخه وروسته

**هغه نوي زیږېدلي ماشومان چې عمرونه یې د 6 میاشتو او 11 میاشتو** ترمنځ دي او کله چې د هیپاټایټس A پر وړاندې د خوندیتوب سپارښتنه ورته شوې وي او دوی له متحده ایالتونو څخه د باندې سفر کوي، باید د هیپاټایټس A یوه دوره واکسین ترلاسه کړي. دغه ماشومان همدارنګه د اوږدمهاله خوندیتوب لپاره باید په وړاندیز شوو عمرونو کې دوه نور واکسین ترلاسه کړي.

**لوی ماشومان او ځوانکوټي** چې عمرونه یې له 2 تر 18 کلونو پورې دي او مخکې یې واکسین نه دي کړي باید واکسین شي.

**هغه لویان** چې مخکې نه دي واکسین شوي او غواړي د هیپاټایټس A پر وړاندې خوندي واوسي هم کولی شي واکسین وکړي.

د هیپاټایټس A واکسین د لاندې کسانو لپاره هم وړاندیز کیږي:

نړیوال سفر کوونکي
هغه نارینه چې له نورو نارینه وو سره جنسي اړیکې لري
هغه خلک چې تزریقي یا غیر تزریقي مخدره توکي کاروي
هغه خلک چې په کار کې په مکروب د اخته کیدو له خطر سر ه مخ دي
هغه خلک چې له هېواد د باندې له کوم خپل سره د نږدې اړیکې تمه لري
هغه خلک چې بې کوره دي
هغه خلک چې HIV لري
هغه خلک چې د ځیګر شدیده ناروغي لري

سربېره پر دې، هغ کس چې مخکې یې د هیپاټایټس A واکسین نه وي کړي او له داسې چا سره مستقیمه اړیکه ولري چې په هیپاټایټس A باندې اخته وي، باید څومره ژر چې کولی شي له نږدې تماس څخه وروسته په 2 اونیو کې د هیپاټایټس A واکسین وکړي.

د هیپاټایټس A کیدای شي له نورو واکسینو سره هممهاله ترسره شي.

U.S. Department of
Health and Human Services
Centers for Disease
Control and Prevention

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چېرې د واکسینو ترسره کوونکي شخص ته:

**د هیپاټیټیس A واکسینو د وروستیی دورې له امله حساسیتي غبرګون پیدا شوی وي، یا د د ژوند ګواښوونکی حساسیت ورته پیدا شوی وي**

په ځینو موارادو کې، ستاسو روغتیاپال ښایي د هیپاټیټیس A واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې که چېرې په هیپاټیټیس A باندې د اخته کېدو له خطر سره مخ وي باید واکسین ترسره کړي. امېنداوراې یا شیدې ورکول هغه دلایل نه شي کېدای چې د هیپاټیټیس A واکسین له ځنډ سره مخ کړي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم کولی شي واکسین ترسره کړي. د ملایمو او شدیدو ناروغیو لرونکي خلک باید مخکې له دې چې د هیپاټیټیس A واکسین وکړي تر ښه کېدو پورې انتظار وباسي.

ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

## 4. د واکسینو د غبرګون خطرونه

د ستنې د ځای سوی او سره کېدل، تبه، سردردي، ستړیا، یا د اشتها له لاسه ورکول کېدای شي د هیپاټیټیس A له واکسینو وروسته پیدا شي.

خلک ځینې وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کيږي. که په تاسو سرګرځېدلی وي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاری وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته ووایاست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

د طبي پاملرن ه )نې( چمتو کونکو ته د واکسین کولو دقیق وضعیت
واکسین کولو لپاره و ړاندیز شوی مهالویش اجازه ورکولو لپاره، معلومات به د میشیګان پاملرن ې ښه والي
Michigan Care ثبتونېمعلوماتو، د واکسی
ته واستول شي. اشخاص د ) Improvement Registry
دې غوښتن ه کولو حق لري چې د دوی د طبین پاملرنې چمتو کونکي ثبتونې ته د واکسی ن کولو معلومات ونه لیږ ي.کولو ارزونه، او د راتلونکي وخت

## 5. که جدي ستونزه رامنځته شي څه به کېږي؟

یو حساسیتي غبرګون کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي. که تاسو د جدي غبرګون نښې لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، ستړیا، یا کمزوري) ولیدلې نو، **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړونده شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

که نورې داسې نښې نښانې لرئ چې تاسو ته اندېښنه پیدا کوي، خپل روغتیاپال ته زنګ ووهئ.

د ضرري غبرګونونو په هکله باید د ضرري پېښو د راپور سیستم (Vaccine Adverse Event Reporting System, VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) یا دې شمیرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یواځې د غبرګون په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. د واکسینو له امله د ټپي کېدو د خسارې ملي برنامه

د واکسینو له امله د ټپي کېدو د خسارې ملي برنامه (National Vaccine Injury Compensation Program, VICP) یوه فدرالي برنامه ده چې د ځینو واکسینو له امله ټپي شوو خلکو ته د خسارې ورکولو لپاره رامنځته شوې ده. د واکسینو له امله د ټپي کېدو یا مړینې په اړه کېدونکې ادعاوې د ثبت لپاره کمه موده لري، چې کېدای شي تر دوو کلونو پورې وي. د VICP وېب سایټ ته په دې پته ورشئ [www.hrsa.gov/vaccinecompensation](http://www.hrsa.gov/vaccinecompensation) یا دې شمیرې ته زنګ ووهئ **1-800-338-2382** تر څو د اړونده برنامې او ادعا د ثبت په هکله معلومات زده کړئ.

## 7. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
خپلې ځایي یا ایالتي روغتیایي څانګې ته زنګ ووهئ.
د واکسینو په اړه د معلوماتي پاڼې او نورو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) له لارې د خوړو او درملو ادارې (Food and Drug Administration, FDA) وېب پاڼې ته ورشئ.
د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز (Centers for Disease Control and Prevention, CDC) سره په اړیکه کې شئ:
- **1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO)** ته زنګ ووهئ یا
- د CDC وېب سایټ ته په دې پته ورشئ [www.cdc.gov/vaccines](http://www.cdc.gov/vaccines).

Pashto translation provided by the Immunization Action Coalition

DCH-0452PA
AUTH: P. H. S., Act 42, Sect. 2126.